میرویس جواد ۲۰۱۲/۰۳/۰۶

# ایران؛ ښکاره ملګری، پټ دښمن

په افغانستان کی د ایران لاس وهنی د امریکایانو راتګ پوری منحصر نه کیدای شي؛ بلکه دغه لاس وهنی نولسمی زیږدیزی پیړۍ او حتی له هغه وړاندی پوری تړلي دي، چی غواړم په لنډه توګه تاریخي شالید ته یی اشاره وکړم او وروسته به په اوسنیو حالاتو کی د ایران لاس وهنی و څیړم.
په ۱۹ پیړۍ کی د سیستان ولایت، چی د تاریخ او اسطوری له پلوه د پخواني (خراسان او آریانا) او اوسني افغانستان تاریخي ښار وو د روسیی او بریټانیی د استعمار پاملرنه له دی امله ورته وشوه، چی د افغانستان، بلوچستان، هندوستان او ایران د لارو پر سر پروت ولایت وو.
په ۱۸۶۶ زیږدیز کال کی د ایران حکومت سیستان ولایت، چی د افغانستان خاوری پوری تړلی وو لاس واچاوه، چی د ایران او افغانستان ترمنځ شخړی او حتی جګړه پیل شوه. د دغی جګړی ختمولو لپاره بریټانیی د منځګړي په توګه میدان ته را ودانګل البته د بریټانیی منځګړیتوب د ایران او بریټانیی ترمنځ د پاریس تړون له مخی، چی په ۱۸۷۲ زیږدیز کال کی لاسلیک شوی وو رامنځ ته شوو، نو هماغه وو، چی د بریټانیی له لوري یو پلاوی، چی مشري ګولډ سمېټ کوله او د پالک په نامه یی یو تن غړی درلود قضیی ته دننه شول.
په دغه وخت کی ایران د بریټانیی تر نفوذ لاندی وو او د ایران لومړی وزیر سپه‌سالار میرزا حسن خان د انګلیس جیره خور وو، په داس یحال کی، چی د افغانستان پاچا امیر شیر علي خان د انګلیس له سیاستو سره په ټکر کی وو، نو طبیعي خبره ده، چی انګلیسي پلاوي به هم خپله پریکړه د ایران په ګټه کوله.
د دغی شخړی حل کولو لپاره د افغانستان له لوري سید نور محمد شاه خان د ایران له لوري مرزا معصوم خان او وروسته مرزا ملکم خان د استازو په توګه و ټاکل شول. له ډیرو هڅو څخه وروسته انګلیسي پلاوي په ۱۸۷۲ زیږدیز کال د اګسټ په ۱۸ نیټه خپله پریکړه صادره کړه. د پریکړی په ډیری برخو کی له سیستان څخه د افغانستان خاوری په توګه یادونه شوی ده؛ خو په پایله کی سیستان د انګلیسي پلاوي له لوري په دوو برخو وویشل شو. هغه برخه یی، چی ډیر وګړي په کی میشت ول او ښیرازه سیمه وه د ایران ته یی ورکړه؛ خو د چخانسور کم وګړي سیمه او همدا راز د نادعلي کلا او تر کوهک بندره پوری د هلمند سیند دواړی خواوی افغانستان ته پریښودل شوی.
په هغه وخت کی دغه پریکړه د افغانانو د منلو وړ نه وه او د سید نور محمد شاه تر جدي نیوکی لاندی هم راغله.
ستونزه دلته پای ته و نه رسیده؛ بلکی په ۱۸۹۶ زیږدیز کال کی د هلمند د سیند مجرا، چی له نادعلي څخه تیریده او په مستقمه توګه مخ په شمال روانه وه مسیر یی بدلون موند، چی له امله د ایران او افغانستان ترمنځ د اوبو د ویش پر سر بیاځلي شخړی رامنځ ته شوی.
د شخړ حل لپاره د سرهنري مک مهان په مشري یو ځل بیا د انګلیس پلاوی وټاکل شو، چی د مک مهان پریکړی په پایله کی د هلمند سیند نیمایي اوبه ایران ته وبښل شوی، چی بیا هم د افغانان له لوري په کلکه رد شو. د هلمند سیند د افغانستان له غرونو څخه پیلیږي او ډیری برخه یی د افغانستان په خاوره کی بهیږي.
له کلونو کلونو شخړو او د دواړو هیوادنو ترمنځ د پلاوو له لیږلو او رالیږلو څخه وروسته بالاخره د ۱۹۷۳ زیږدیز کال د مارچ میاشتی په ۱۳ د افغانستان د لومړي وزیر محمد موسی شفیق او د ایران له لوری له امیر عباس هویدا سره د هلمند د اوبو بر سر تړون لاسلیک شو.
د تړون له لاسلیک کیدو څخه وروسته او هغه مهال، چی سردار محمد داوود خان د ظاهر شاه پر وړاندی کودتا وکړ، نو دغی کودتا د ایران شاهي نظام اندیښمن کړ؛ ځکه به ګاونډ کی یی شاهي نظام نسکور شوی وو او دغی کړنی د ایران شاهي نظام مخالفانو ته جرات ورکاوه، څو د شاه پر وړاندی و دریږي. د کودتا په ترڅ کی ایران چوپ کینه ناست؛ بلکی هڅی یی وکړی، څو د داوود خان پر وړاندی په شاهي کورنۍ کی بل ځای‌ناستی را پیدا کړي، خو و نه توانید. له دی مخی ایران اړ شو، څو له داوود خان سره خپلی اړیکی ټینګی کړي.
په افغانستان کی د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور کودتا سره جوخت په ایران کی اسلامي انقلاب بریا تر لاسه کوي، نو هماغه وو، چی د اهل تشیع ډیری برخه ایران ته کډوال شول.
په لومړیو کی د ایران مذهبي مشر روح الله خمیني په دی لټه کی وو، څو د ایران انقلاب اسلامي نړۍ ته د بیلګی په توګه وړاندی کړي او له ټولی اسلامي نړۍ سره یی اړیکی پاللی؛ خو له لنډی مودی څخه وروسته نظر یی بدل شو او یوازی د اهل تشیع په فکر کی شو، چی د بیلګی په توګه د لبنان د حزب الله له رامنځ ته کیدو څخه یادونه کولای شو. په افغانستان کی هم همدا مسئله وه، هغه شیعه افغانان، چی ایران ته کډوال شوي وو د ایران دولت په مرسته یی په لس ګونو ډلی ټپلی رامنځ ته کړی، په لاندی توګه دي:
شورای انقلاب اسلامي افغانستان


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

حرکت اسلامي افغانستان
سازمان نصر افغانستان
سازمان نیرو اسلامي افغانستان
نیروی انقلاب اسلامي
نهضت اسلامي افغانستان
حزب اسلامي اعلاً افغانستان
روحانیت و جوان افغانستان (رجا)
فداییان اسلام افغانستان
امت اسلامي مکبت توحید
سازمان فلاح اسلامي
حزب دعوت اسلامي افغانستان
کانون مهاجر
اتحادیه مهاجرین افغانستان
شباب الهزاره
شورای انقلاب آزادي بخش اسلامي

ایران وکولای شول، چې د دغو ټیلو په رامنځ ته کولو سره په افغانستان کې پراخ نفوذ ولري او د روسانو پر وړاندې د جهاد پر مهال له همدغو ډلو ټپلو څخه د ځان په ګټه، ګټه پورته کړي. غواړم دغه مسئله نوره هم روښانه کړم: په ۱۹۸۰ زیږدیز کال کې هغه مهال، چې د ایران او عراق ترمنځ جګړه پیل شوه، نو په لومړیو کې د ایران وسلې بسنه کوله؛ خو د جګړې له غځیدو سره هغه وسلې، چې د امریکا له لوري د ایران له شاهي نظام سره مرسته شوې وې مخ په خلاصیدو وې او هغه وسلې او توغندي، چې پاتې هم وو، نو ډیرې پرزې او نور توکي یې په ایران کې شتون نه درلود او یوازې له لویدیځو هیوادونو په ځانګړي توګه له امریکا سره وې. همدا راز د ایران آخوندي رژیم د لویدیځو له بندیزونو سره مخ وو، نو له دې امله ایران روسیې ته مخه کړه. لکه څنګه، چې روسان په افغانستان کې د افغان مجاهدینو له مقاومت سره مخ ول، نو روسیې له ایران څخه غوښتنه وکړه، چې په افغانستان کې دې له خپل نفوذ څخه په ګټې اخیستنې سره د دغه هیواد سرتیرو پر وړاندې جګړه نه کوي. هماغه وو، چې پورتنیو افغان تشیع ډلو ټپلو په بشپړه توګه د ایران غوښتنې ومنې او له ایران سره د روسیې مرستې جاري شوې.
د طالبانو د واکمنې پر مهال له طالبانو سره د ایران اړیکې خرابې وې او حتی دا، چې په ۱۳۷۰ لمریز کال په مزار شریف کې د ایراني ډیپلوماټانو وژنې له امله نږدې وو، چې د ایران او افغانستان ترمنځ جګړه پیل شي، چې وروسته بیا ثابته شوه وژل شوي کسان، چې ظاهراً ډیپلوماټان وو؛ خو په اصل کې د ایران د ساتونکو ځواک (سپاه پاسداران) غړي وو او په خپله د ایران ځارګرې اداری له لوري وژل شوي، څو له یوه لوري پر افغانستان فشار راوړي او له بل لوري د دوی ماموریت افشا نه شي.
د طالبانو له نسکوریدو څخه وروسته او افغانستان ته د نړیوالو ځواکونو له راتګ سره سم په افغانستان کې د ایران سیاست هم بدلون وموند.
ایران په افغانستان کې هغه ښوونځي، پوهنتونونه، رسنۍ او مدرسې رامنځ ته کړې، چې په بشپړه توګه د دوی په خدمت کې دي او له همدغو دریځونو څخه په افغانستان کې د نړیوالو پر وړاندې په بشپړه توګه کار اخلي.
هغه رسنۍ، چې د ایران له لوري تمویل کیږي لیدونکې به یې توپیر و نه شي کولای، چې دا ایراني رسنۍ دي او یا هم افغانستان پورې تړاو لري.
د ایران دغه نفوذ پر وړاندې افغان دولت هم چوپه خوله ناست دی او هیڅ نه وایي، کیدای شي هغه هم د دې لپاره، وي چې ایران په افغان دولت او حتی په ولسمشرۍ ماڼۍ کې پراخ نفوذ کړی وي، چې ښه بیلګه یې د ولسمشرۍ دفتر ته د پیسو ورکړه ده، چې تیر کال ولسمشر په خپله ومنله، چې د ایران له لوري له دوی سره مرستې کیږي.
په افغانستان کې د ایران یوه بله موخه د شیعه مذهب پراخول او خورول دي، چې په دې موخه یې په پلازمینه کابل او د هیواد په بیلابیلو ولایتونو کې د مدرسو او مذهبي مرکزونو رامنځ ته کړي دي.
د ځینو لاسوندونو له مخې ایران د افغان دولت له وسله والو مخالفانو سره په مستقیمه توګه مرستې کوي او هغه هم د دې لپاره، څو په افغانستان کې د بهرنیو پر وړاندې یې و جنګوي، چې په وار وار د هیواد له بیلابیلو ولایتونو په ځانګړي توګه له هغو ولایتونو څخه، چې له ایران سره په پوله پراته دي ایرانۍ وسلې تر لاسه شوي دي؛ خو بیا هم افغان حکومت چوپه خوله ناست دی.
بله مسئله، چې ایران په افغانستان کې ورته لمن وهي هغه د افغانستان فارسي ژبې بلل دي، چې په بشپړه توګه ناسمه ده؛ ځکه که د ایران معیار دا وي، چې په ایران کې د نورو ژبو په پرتله د فارسي ژبو سلنه لوړه ده، نو ایران فارسي ژبی دی؛ خو په افغانستان کې بیا د پښتنو سلنه لوړه ده. دلته هم ښکاره ده، چې ایران د ژبې تر نامه د سیاسي ګټو تر لاسه کولو په لټه کې دی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ایران له هغو ډلو ټپلو څخه، چې رامنځ ته کړی یې وی اوس مهال د لویدیځ پر وړاندی او د خپلو ګټو د خوندي کولو په لار کی ګټه اخلي.
په پای کی غواړم په افغانستان کی د ایران موخی په لنډه توګه خلاصه کړم، چې پر هر ربښتوني افغان لازمه ده، څو د مخنیوي لپاره یی جدي ګامونه پورته کړي.
په افغانستان کی د لویدیځو پر وړاندی جګړه، چې دغه جګړه دوی له افغانستان څخه د خپلو ګوډاګیانو له لاری تر سره کوي.
په هیواد کی د نا امنیو رامنځ ته کول، څو دوی له دی لاری وکولای شي خپلو شومو موخو ته ورسیږي، چې د دغو موخو یوه برخه د هلمند اوبه دي.
شیعه مذهب ته وده ورکول.
د پښتنو پر وړاندی دښمني حتی ویل کیږي، چې ایران د پښتو مسخی تر نامه یو پروګرام تر لاس لاندی نیولی، چې له مخی یی د افغانستان په ګوټ ګوټ کی پښتو کتابونه را ټولیږي او وروسته بیا ایران ته لیږدول کیږي، چې هلته بیا د ایران له لوري سوځول کیږي.
له افغانستان څخه د فارسي ژبی هیواد په نامه سیاسي ګټه پورته کونه.
په افغان دولت کی د ایران د نفوذ لا پراخوالی.
د افغانستان وروسته پاتی والی.
د افغانستان د اقتصادي بنسټونو له منځه وړل.


اخځونه:

| | |
|---|---|
| افغانستان در مسیر تاریخ | میر غلام محمد غبار |
| رقابت های ایران با کشور های دیگر در افغانستان | وحید مژده |
| رد پای فرعون | رزاق مامون |
| پوهنغونډ (ویکي پېډیا) | انګلیسي |



کابلjawadimirwais@gmail.com




افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ